**مطبوعاتي اعلاميه**

**اې د پاکستان واکمنانو خبردار اوسئ! اسلامي امت به هغه کسان مثال راوړي چې له يهودي ښکېلاک سره اړيکې ټينګوي**




د يهودي ادارې مشر اسحاق هرتزوګ په داووس کې د ۲۰۲۲م کال، د مى د ۲٦مې نړيوال اقتصادي فورم غونډې ته په وينا کې، ښکېلاکګرو يهودو ته د پاکستاني پلاوي پر سفر خوښي څرګنده کړه. تر دې مخکې پر ټولنيزو رسنيو د پاکستان د دولتي تلويزيون خبريال احمد قريشي او د پوځي مشرتابه د پېژندل شوي استازي د ليدنې انځورونه هم خپاره شوي وو. تېر کال په جون مياشت کې هم د پخواني لومړي وزير عمران خان د ځانګړي مرستيال ذوالفقار بخاري د پټ سفر په اړه خبرونه خپاره شول. د عربو رژيمونو له لوري له يهودانو سره د اړيکو له عادي کېدو وروسته اوس د ښکېلاکګرو يهودو او پاکستان تر منځ اړيکې پراخې شوې دي.

نه يوازې د باجوه-عمران، بلکې د باجوه- شهباز رژيم هم د استعماري غلام نظام له امله د امريکا امرونو ته غاړه ايښې ده. خو واکمنان بايد پر دې پوه شي چې امت د يهودي ښکېلاک له بشپړ ړنګېدو پرته پر بل شي نه راضي کېږي. په مسجدالاقصى او شاوخوا کې يې د الله سبحانه وتعالى برکت پروت دى او هېڅ کافر د دې حق نه لري چې پر يوه موټې خاوره يې هم واکمني وکړي.

په حقیقت کې د پاکستاني پلاوي د وروستي سفر په اړه د بهرنیو چارو وزارت توضیحات ښکاره ګناه او څرګند دروغ دي. یوه بهرنۍ نادولتي موسسه په کوم جرأت سره کولای شي چې د پاکستان له اتباعو څخه په استفادې له یهودي ادارې سره اړیکې ټینګې کړي؟ په داسې حال کې چې د فلسطین هره برخه باید ازاده شي، څنګه کېدای شي چې د پاکستان له لوري د مسجدالاقصی او د دوو دولتونو د حل او فصل غږونه راپورته شي؟ حکومت د دې ناوړه عمل، ترسره کوونکو او نادولتي موسسو پر وړاندې کوم اقدام وکړ؟ د یهودانو د ملتپالو لاریونونو، د ښکېلاک د لمانځلو او د مسلمانانو پر خلاف د شعارونو د پورته کولو پر مهال دا ډول غږ څنګه راپورته شو؟

ښکاره خبره ده چې د پاکستان سیاسي او پوځي مشرتابه د ارزانه دنیوي ګټو لپاره له مسلمانانو او اسلام سره خیانت کوي. د پاکستان مشرتابه په ټوله نړۍ کې په ۴٦ ماموریتونو کې د امریکا د وسیلې په توګه د ملګرو ملتونو په نوم د سوله ساتو ماموریتونو لپاره دویم لوی شمېر پوځیان استولي دي، خو لا هم د کشمیر او فلسطین د ازادۍ لپاره، جهاد ته خپل پوځیان نه استوي! د پاکستان واکمنان نه یوازې دا چې امت ته دوکه ورکوي، بلکې ځان د الله سبحانه وتعالی په عذاب ګرفتاره کوي. ان شأالله ډېر ژر به د نبوت پر منهج جوړ شوی خلافت د پاکستان ځواکمن وسله وال د ټولو اسلامي خاورو د خلاصون لپاره حرکت وکړي او په سرینګر او مسجدالاقصی کې به د فتحې تکبیرونه پورته کړي.

**د حزب التحریر- ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**